**مجلهٔ علمی- تحقیقی علوم طبیعی پوهنتون کابل**
https://jns.edu.af
**Print ISSN: 3078-6657    E-ISSN:3078-6665**

# د کرهنیز صکوک له لارې د قوشتېپې کانال په شا و خوا کې د کرهنیزو عملیو تمویل

**نجیب الله عمري**

د افغانستان علومو اکاډمي، داسلامی بانکداری او معاصرو مسائلو څېړنیز مرکز علمی مشاور

ایمیل: najibullaomari@gmail.com

**لنډیز**

ګران هېواد مو کرهنیز او خاوره یې ښه حاصلخیزه ده؛ نو د کرهنې سکټور تقویه او پرمختګ مو د ځان بساینې ضامن جوړېدای شي. د خپلې کرهنې د میکانیزه کولو په موخه د نورو کوټلو ګامونو تر څنګ د اسلامي نظام د اقتصاد د پیاوړتیاهغه میکانیزمونه هم د توجه وړ دي، چې د معاصرې نړۍ په ځانګړي توګه د اسلامي هېوادونو اقتصادي پرمختګ تومنه جوړوي، چې یو له هغو څخه صکوک دی. صکوک د مالي او بانکي سکټورونو لپاره هغه مطمئن، محفوظ، تضمین شوې او د تبادلې وړ وسیلې دي، چې تجارتي بازار کې له وګړو د اضافې شتمنۍ د جلب او جذب برخه کې ترې کار اخیستل کېږي. دې ډله کې یو شمېر صکوک لکه مزارعة، مساقاة او مغارسة د کرهنیز ډګر لپاره کارول کېږي. دې مقاله کې هڅه شوې چې د همدې صکوک شرعي څرنګوالی، ماهیت، عملي کړنلاره او تخنیکي جوړښت د هېواد اقتصادي وضعیت او د کرهنې ډګر کې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د قوشتیپې کانال شا او خوا کې په عملي ډول وڅېړل شي. دې مالي وسیلو کې کرهنیز فعالان لکه : کرهنیز بانکونه، شرکتونه، یا هم اړوند ډګر کې فعال بنسټونه؛ برابره خبره ده چې دولتي یا خصوصي شرکتونه وي، کولای شي د پورته فقهي عقودو پر بنسټ صکوک صادر، د پانګه والو پانګه جذب اود دوي لخوا یې وکالتا د دریم مالي منځګړي بنسټ پر مټ د یوه منظم میکانیزم له مخې د کانال د خوا او شا ځمکو په اخیستلو یا اجاره کولو سره کرهنیز فعالیتونو کې مصرف او له دې لارې تر لاسه شوې ګټه د لګښتونو له وضع کولو وروسته د صکوکو د حاملینو تر منځ د پانګې په تناسب ووېشي.

**کلیدي کلمې**: مزارعة، مساقاة او مغارسه صکوک، د کرهنیزو عملیو تمویل، قوشتېپه کانال

# Financing Agricultural Practices of Khush Tepa Canal through Agriculture Sukuk

**Najeebullah Omari**
PhD Scholar & Asst. Prof. Academic Adviser of Islamic Banking and Contemporary Issues, Research Center of Afghanistan Sciences Academy
Email: najibullaomari@gmail.com

## Abstract

Afghanistan, our beloved country, is an agricultural nation blessed with fertile lands. Strengthening the agricultural sector is essential to achieving self-sufficiency. To modernize agriculture in the country, several Islamic economic mechanisms have been proposed, drawing inspiration from successful implementations in the contemporary world, particularly in Islamic nations. One such mechanism is *sukuk*. *Sukuk* are financial instruments designed for the banking and financial sector, offering security, safety, and guaranteed returns. These instruments are tradable, enabling the mobilization of idle funds from the commercial market and injecting them into the economic cycle. In agriculture, specific types of *sukuk*, such as Sharecropping Certificates (*Muzara'ah Sukuk*), Irrigation Certificates (*Musaqat Sukuk*), and Agricultural Certificates (*Mugharasah Sukuk*), are utilized to finance and advance agricultural practices. This article explores the adaptation of these types of *sukuk* within the framework of Islamic jurisprudence, analyzing their practical and technical applications in the context of Afghanistan's economic and agricultural landscape. The focus is on financing agricultural operations around the Khush Tepa irrigation scheme. Under this mechanism, various stakeholders in the agricultural sector—such as agricultural banks, companies, and relevant government or private entities—can issue *sukuk*. These entities can attract investments, lease or purchase lands surrounding the canal, and use the proceeds to enhance agricultural operations. Income generated from these activities, along with profits, is distributed among *sukuk* holders in proportion to their investment, based on pre-agreed terms outlined in the *sukuk* prospectus.

**Keywords:** Sharecropping (Muzara'ah Sukuk), Irrigation c (Musaqat Sukuk), and Agricultural (Mugharasah Sukuk), Financing Agricultural Operations, Khush tepa canel.

**ارجاع:** عمری، ن. (۱۴۰۳). د کرهنیز صکوک له لارې د قوشتېپې کانال په شا و خوا کې د کرهنیزو عملیو تمویل. *ژورنال علوم طبیعی پوهنتون کابل* ۷ (شماره فوق‌العاده کنفرانس بین‌المللی انقلاب سبز برای خودکفایی افغانستان). ۳۰۱-۳۲۲.
https://jns.edu.af/jns/article/view/105

**سریزه**

الحمد لله وکفی والصلوٰة والسلام علی محمد المصطفی، وعلی آله النجباء، وأصحابه الأتقیاء، ومن اقتدی بهدیه الی یوم الجزاء.

اسلام د یوه شامل او کامل آسماني قانون په توګه د ژوندانه داسې چوکاټ ترسیم کړی، چې دعقایدو او عملي احکامو تر څنګ یې معاملات هم ملحوظ کړي. دا معاملات د شرایطو او ظروفو په تناظر کې د عیني واقعتونو او پرمختګونو سره د اړخ لګولو ځانګړتیا لري. معاصره نړۍ کې د اسلامي مالي چارو د مطرح کېدو او پرمختګ سره هم مهاله فقها، د اسلامي مالي ابزارو/ وسایلو په فکر کې شول، د دې موخې په پار یې مختلف شرعي عقود وارزول څو بیا دا ابزار د سودي سندونو غوره بدیل وګرځېږي. د معاصرو فقهاوو دا زیار نتیجه ورکړه او مالي ډګر کې یې صکوک بازار ته وړاندې کړل.

صکوک د مالي او بانکي سکټورنو لپاره هغه مطمئن، خوندي، تضمین شوې او د تبادلې وړ وسیلې دي، چې سوداګریز بازار کې له وګړو د اضافي شتمنۍ په جلب او جذب کې کارول کېږي. دا وسیله، اسلامي مالي معاملاتو کې د قرض سند د بدیل په توګه تل په یوه فزیکي شتمنۍ باندې متکي وي. دا شتمني هم باید د شریعت له نظره کومه حرامه شتمني نه وي. د یادولو ده چې دې شتمنۍ کې صکوک درلودونکي کس شریک دی؛ نو په همدې لحاظ ګټه او تاوان کې هم شریک ګڼل کېږي [۱].

د قوشتېپې کانال، د هېواد یو له هغو پروژو څخه دی چې د کرهنیز ډګر میکانیزه کولو او اوبو مهارولو پیلامه او یو ستر ګام یې بللی شو. دا لوی اقتصادي فرصت که مو له یوې خوا د هېواد کرهنیز ډګر بډایه کوي له بله پلوه مو د آمو سیند څخه د خپلې مسلمې حقابې د نسبي ګټه اخیستنې چانس میسر کوي. د ګڼو اقتصادي فرصتونو تر څنګ مو هېواد په وچه چاپېر داسې جغرافیا ده چې سمندري منابعو ته لاسرسی نه لري او داسې هېوادونه معمولاً له اقتصادي پلوه په پردیو متکي، له نظامي پلوه کمزوري او له تجارتي پلوه د لوړ مصرف درلودونکي بلل کېږي خو دې ډګر کې یوه لویه نیکمرغۍ هم لرو هغه دا چې پرېمانه رواني اوبه لرو. اوبه هغه الهي پیرزوینه ده چې د ژوندیو موجوداتو ژوند تضمینوي، د ژوند تضمین یواځې د څښاك اوبو پورې نده غوټه شوی بلکې کرهنیز، ټولنیز او تجارتي ډګرونه یې هم له تأثر مبرا ندی پاتې شوی. ټولنیز ژوند کې له شخصي نظافت را نیولې بیا تر ټولنیز نظافت او چاپېریال کې اوبو ته اړتیا محسوسېږي، تجارتي ډګر کې له نړیوال تجارته نیولې د توکو واردات او صادراتو کې

---

[۱] اقتصاد و بانکداري اسلامي، ص ۲۰۳.

رغنده ونډه لري. کورنۍ تجارته /صنعت، کرنه او اوبه لګونه، ټکنالوژي او ... کې د برق ارزښت او داسې نورو کې د اوبه استعمال له پامه نشي غورځېدای .

منم چې د اوبه مهارول یا د هېواد کرهنیز ډګر میکانیزه کول یوه پیچلي پروسه ده، له تخنیکي پلوه لوړ ظرفیت، له اقتصادي اړخه زیات لګښت، له حقوقي زاویې جامع تقنیني سندونو او له سیاسي بعده د ګاونډیانو سره مقابلې ته اړتیا لري کوم چې تل د تاریخ په اوږدو کې د اوبو د مدیریت په وړاندې د لویو خنډونو په توګه مطرح شوي اما دا هیڅکله په دې مانا نه ده، چې زموږ له اوبو دې پردې خړوبه شي او موږ له تندې ومرو، زموږ له اوبو دې ګاونډیان د آسیا کندو شي او موږ دې ترې په سوال غنم وپلورو، زموږ سیال دې ترې خپله کرهنه میکانیزه کړي او زموږ کرهنیز محصولات دې د دوی سره په پوله خټا شي.

ولس مو خواریکښ، ځمکه مو حاصل خیزه، اقتصادي پروګرامونه مو تر یوې کچې کرهنه محوره دی . اسلام او دین کې کرکیله یو محمود او ستایل شوی عمل ګڼل شوی او حاکم نظام مو هم د شریعت پلې کول خپل لومړیتوب ګڼي؛ نو اړتیا ده، چې د اسلامي اقتصاد له معاصرو لارو چارو په داسې توګه ګټه واخلي، چې د هېواد لویې پروژې پرې تمویل شي. قوشتیپه د یوې ملي بنسټیزې پروژې په توګه د نورو ګڼو ښیګڼو سر بیره خپله شا او خوا کې مختلفو کرهنیزو عملیو لپاره بستر غوړوي. څنګه چې د دې کانال پیل او تطبیق ستونزمن او له اقتصادي پلوه زیات لګښت لرونکی و، طبعاً له ابو څخه یې کرهنیزه ګټه اخیستنه همدومره ستونزمنه، تخنیکي، چلنجي او د زیات لګښت لرونکي پروګرام ګڼل کېږي. د اسلامي امارت اقتصادي وضعیت، د مالي او بانکي بنسټونو پالسیو ته په کتو ویلای شو، چې د دې لویې پروژې د کرهنیز کولو په پار صکوک یواځینی وسیله ده.

**د موضوع شالید/ مخینه**

**تېرو آثارو ته کتنه**

که د دې څېړنې په تړاو په هغو کتابونو او آثارو ځغلنده نظر واچوو، چې پخوا پرې لیکل شوي؛ نو تر لاسه کوو چې تر دې عنوان لاندې (د کرهنیز صکوک له لارې د قوشتېپې کانال په شا او خوا کې د کرهنیزو عملیو تمویل) هیڅ داسې مقاله نه ده لیکل شوې چې د کرهنیز صکوک، علمي او تخنیکي جوانب په هغه انداز سره وڅېړي کوم چې دې څېړنه کې بحث شوی خو سره له دې هم هغو آثار یا مقالې چې دصکوکو له موضوع سره یو څه اړیکه هم ولري په ځغلنده نظر لاندې توګه ذکر کوو.

نړۍ واله کچه باندې له تیوریکي او عملي پلوه صکوک څېړل شوې او عملي شوي، چې یو بارز مثال یې خلیجي هېوادونه کېدای شي، دې هېوادونو له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۰ پورې د ۱۹۶.۲۹۷ میلیونو ډالرو

په ارزښت صکوک صادر کړي، په داسې حال کې چې په نړیواله کچه ۳۳۲.۳۲۵ میلیونو ډالرو په ارزښت صکوک صادر شوي او د خلیج هېوادونو دا مبلغ د نړیوالو صکوک ۵۹٪ برخه جوړوي. په دې سلنه کې د اماراتو برخه ۲۷٪ صکوک او د سعودي عربستان ونډه بیا ۲۰٪ ښودل شوې۲.

اما د هېوادونو په اقتصادي وده باندې د صکوکو تأثیرات کوم چې د اقتصاد پوهانو لخوا د علمي لیکنو پر بنسټ مثبته اروزل شوې په لاندې توګه یې څو مختصر مثالونه بیانېږي:

الف: د عسکرزاده او همکارانو لخوا یې په ۱۴۰۰ کال کې د ( بررسی رابطه بین ابزار های مالی اسلامی (صکوک) و رشد اقتصادي ایران ) تر عنوان لاندې څېړنه شوې چې پایله یې د ایران په اقتصادي وده کې د صکوک ځانګړی ارزښت په ګوته کوي۳.

ب: غفاري فرد او همکارانو یې په ۱۳۹۸ کال کې د ( بررسی نقش تأمین مالی اسلامی ( صکوک ) بر رشد اقتصادي کشورهای مالزی، ایران، پاکستان، قطر، بحرین، ترکیه، اندونزي، امارات او عربستان، طی دوره زماني ۱۳۸۳ الی ۱۳۹۷ ) تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړې او پایله یې د صکوک او اقتصادي ودې تر منځ مثبت تاثیر ښودل شوی٤.

ج: همدا رنګه یاني ( Yani et al ) او همکارانو یې له ۲۰۱۳-۲۰۱۸ د اندونیزیا په اقتصادي ودې د اسلامي ونډو، صکوک او د پانګونې صندوقونو تأثیرات، مطالعه شوې. پایله کاملاً قناعت بخش او مثبت ارزول شوې۵.

د: ورته توګه سره علي اکبری ( Aliakbari et al,2021 ) له ۲۰۱۰-۲۰۱۹ د ترکیې په اقتصادي ودې د صکوک تأثیرات، ارزولي او پایله یې معناداره او مثبته ثابته کړې٦.

[2] جواد او ملګري یې، تأثیر صکوک بین الملل بر رشد اقتصادی کشورهای GCC درهایی برای اقتصادی ایران. فصلنامه علمی پژوهنشی اقتصاد اسلامی/ سال بیست و دوم، شماره ۸۷، پایز ۱۴۰۱. ص ۱٦۲.

[3] یاد مأخذ، ص ۱۷۲.

[4] یاد مأخذ، ص ۱۷۲.

[5] یاد مأخذ، ص ۱۷۳.

[6] یاد مأخذ، ص ۱۷۳.

ح: پر يادو څېړونکو برسيره ډېرى نورو څېړونکو چې يو له هغو څخه ښاغلی صابر بو عوينة او ښاغلی عيسى قروش هم د صکوک ونډه اقتصاد لپاره اغېزناکه بولي او په نشر يې ټينګار کوي.۷

کور د ننه صکوک په تطبيقي بڼه کله هم ندې مطرح شوې اما په نظرياتي انداز باندې د اسلامي اقتصاد په ځينو کتابونو کې د محترمو مؤليفينو لخوا څه نا څه څېړل شوي، چې په لنډ ډول اشاره ورته کېږي:

Sukuk in Afghanistan دا يو ګزارش ډول علمي څېړنه ده، چې په ۲۰۱۷ کال کې Office of Economic Advisor لخوا ليکل شوی. دې ليکنه کې کور د ننه د صکوک په فرصتونو او ننګونو لنډ بحث شوی، ضمنا عمومي ډول سره د ځينو صکوک لپاره جوړښتونه هم ترسيم شوي.

بانکداري اسلامي وشيوه تطبيق آن در افغانستان: دغه کتاب په دري ژبه د علومو اکاډمي ښاغلي استاد څېړنپوه عبدالمعبود ضريري ليکلی، چې افغانستان-کابل ښار کې په ۱۳۹۱ هـ ش کال کې چاپ شوی دی. دې کتاب کې د صکوک تر څنګ د بانکونو تاريخچه، اقسام، او خدمتونو کې شرعي مفاسد او حل لارې، کمپنيو کې سودي معاملات او شرعي حل لارې، بيمه کې ربوي عيبونه او شرعي بديلونه يې، د اسعارو تبادله کې شرعي ستونزې او حل لارې او ځينې نور موضوعات په عامه توګه په ښه انداز څېړل شوي ده.

تنوير افکار در معاملات بانکداري اسلامي : دغه کتاب په دري ژبه دکتور محمد ظريف علم ستانکزی ليکلی، چې افغانستان -کابل ښار کې په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې چاپ شوی دی. دې کتاب کې د اسلامي اقتصاد عموميات، بانکوالي، د اسلامي بانکوالی معين معاملات، اسلامي بانکونو کې مختلف محصولات او د کارونې عملي تګلارې، بانکونو سره د تړلو عقدونو شرعي احکام، صکوک ، د پور سندونه، ونډې او ځينې نور موضوعات په کلي ډول سره په ښه انداز څېړل شوي ده.

**د څېړنې موخې**

دې مقاله کې د کرهنيز سکټور لپاره کرهنيز صکوک (مزارعة، مساقاة او مغارسة )د داسې مالي وسيلو په توګه مؤثر په ګوته شوي چې کرهنيز هېواد کې مو د ځان بساينې هيلې ټوکوي. د کرهنيز صکوک د پيژندنې، شرعي تکليف، عملي او تخنيکي ابعاد څېړلو برسيره د کرهنيزو عمليو لکه شاړې ځمکې

---

[۷] صابر بوعينة او قيسي-قروش، واقع و آفاق تطور صناعة الصكو الاسلامية فی العالم دراسة تحليلية للفترة ۲۰۰۱- ۲۰۱۹. مجلة : بحوث و تطبيقات فی المالية الاسلامية، المجلد ۵، العدد ۲، ۲۰۲۱. ص ۱۴۲.

حاصلاتو ته چمتو کول، کرهنيزې ځمکه باندې د مختلفو محصولاتو کرل، ونې کېښودل، د اوبو سيستمونه عيارول، اصلاح شوي تخمونه چمتو کول او داسې نورو مواردو تمويل روښانه کوي.

دې مقاله کې د قوشتيپې/ خوش تېپې کانال پېژندنه، څرنگوالی، مؤثريت، موخې او داسې نور اړخونه مناسب انداز سره څېړل شوي، همدا رنگه شا او خواد باندې د زارعتي تطبيق د هېواد اقتصادي وضعيت او د کرنې ډگر د اړتياوو په نظر کې نيولو سره د يوه لومړني تجربې په توگه مطرح شوی. هڅه به موا دا وي چې د سيمي په هېوادونو ا نحصار او تکيه ختمولو په درشل کې داسې يوه تجربه ازمايښت کړو چې د کرهنيز ځان بسيا په لور مو سفر را لنډ، تجارت او سوداگري مو له سيمې او نړۍ سره گړندۍ شي.

**د څېړنې سوالونه**

دا څېړنه به لاندې سوالونو ته ځوابونه لري:

د اسلامي اقتصاد په رڼا کې د قوشتېپې کانال په خوا او شا کې کرهنيزو عمليو د تمويل لارې چارې کومې دي ؟

مزارعة، مساقاة او مغارسه صکوک څه دي او عملي تطبيق يې څنگه شونې ده؟

قوش تېپه او اقتصادي ارزښت يې څه دی؟

**د څېړنې تگلاره**

دې څېړنه کې له توصيفي او تحليلي ميتود څخه کار اخيستل شوی. کتابخانه يې تحليلي ميتود او مصاحبه ( انټروی ) د دې علمې ليکنې بله اکاډميکه ځانگړنه ده ، او په لمن ليک کې د مصادرو ذکر د علمي څېړنې د اصولو سره سم ذکر شوي دي. همداراز د هر چا قول په امانتدارۍ سره رانقل شوی، د ترقيم مناسبې نښې د اصولو مطابق کارول شوي دي. د لا ښه تفهيم په پار تخنيکي بُعد د صکوک د دياگرام په بڼه ترسيم او هر پړاو يې په مناسب تفصيل سره بيان شوی دی.

**د موضوع ارزښت**

دا چې د قوشتېپې کانال، د هېواد يو له هغو بنسټيزو پروژو څخه گڼل کېږي چې د کرهنيز ډگر ميکانيزه کولو، صنعت، چارپېريال ساتنې او اوبو مهارولو په پار لاره باندې اچول شوی، اړتيا ده چې دې موخو ته ر سېدو لپاره يې د اسلامی اقتصاد پر بنسټ د تمويل عملي ميکانيزمونه په لاره واچول شي. پروژه کې مو موخو ته رسېدو کې صکوک مؤثر ثابتېدای شي او دا ځکه چې صکوک کې د نورو موخو ترڅنگ کرهنيزي موخې هم يادې شوې او ځينې صکوک لکه، مزارعة، مساقاة او مغارسه کرهنيز صکوک پېژندل کېږي. ياد صکوک د ځانگړي شرايطو او ضوابطو په نظر کې نيولو سره، د کرهنيزو

موخو لکه، شاړې ځمکې حاصلاتو ته چمتو کول، کرهنیزه ځمکه باندې د مختلفو محصولاتو کرل، ونې کېښودل، د اوبو سیستمونه عیارول، اصلاح شوي تخمونه چمتو کول او داسې نورو لپاره د کارېدو جوګه دي. دې مقاله کې یادې کرهنیزې عملیې د اسلامي اقتصاد په رڼا کې دشرعي څرنګوالي برسیره د هېواد کرهنیز وضعیت ته په کتو له عملي او تخنیکي پلوه په هر اړخیزه توګه باندې څېړل شوې ده.

د هېواد په اقتصادي ډګر کې د کرهنیزو عملیو د تمویل لارې چارې

د کرهنې ونډه د هېوادونو په اقتصادي پرمختیا په ځانګړې توګه کرهنیز او کم نفوسه هېوادونو لکه افغانستان ښکاره او واضح ده. همدا رنګه د افغانستان د ځمکې مطالعه، د خاورې نوعیت او اقتصادي فعالیتونو ته په کتو جوتېږي، چې افغانستان یو کرهنیز هېواد دی او راتلونکې اقتصادي پرمختیا یې هم تر ډېره کرهنې سره غوټه شوی. د هېواد قاطع اکثریت مو په کرهنه بوخته ده او کرهنه د روزي پیدا کولو او ژوند تیرولو ظاهري لامل یادوي. د صنعتي پرمختګ غوښنه برخه هم کرهنه جوړوي، داسې چې د خامو موادو ډېره برخه کرهنیز محصولات لکه غنم، مالوچ، ابریشم، میوه جات او داسې نور یادېږي. نړیوال تجارت کې مو د کرهنیز محصولاتو صادرات غوره فکتور ثابت شوی.د کرهنې د ځانګړې ارزښت با وجود هم، د هېواد کرهنه نه ده میکانیزه شوې، نو ځکه مو د کرهنیزو ځمکو څخه ډېره کمه ګټه اخېستله کېږي. د کرهنې لپاره مو پرمختللی د ابو سیستم نه شته او بزګران مو لا هم له کرهنیزو پرمختګونو بې خبره دي. د کرکیلې ډول او وسیلې یې هماغه پخواني او له کاره لوېدلې دي ځکه نو داړتیا وړ پانګه نشي پوره کولای.

که اسلامي امارت غواړي چې کرهنیز ډګر تقویه، اقتصادي چرخ په حرکت راولي، هېوادوالو ته شغل زدایي وکړي او هېواد په ځان بسیا کړي؛ اړتیا ده، چې د ځینو لویو اقتصادي پروژو لپاره له ملي بودجه پرته پر نورو داسې لارو چارو غور وکړي، چې له یوې خوا پروژې تطبیق او له بلې خوا هېوادوالو ته د پانګونې فرصت برابر شي. صکوک د دې موخو د تر لاسه کولو جوګه او د قوشتیپې په شان پروژې لپاره کرهنیز صکوک د تطبیق وړ دي او پربنسټ به یې د کانال شا او خوا سیمې ټولې کرهنیزې وګرځېږي.

هېواد کې شته بانکي او مالي بنسټونه د نورو محصولاتو تر څنګ کرهنیز تمویل کې ځانګړي محصولات لري. اکثره بانکونه د خپلو محصولاتو یوه برخه په خاص ډول کرهنیز تمویل ته ځانګړې کړې او یا یې خپله پالیسې داسې عیاره کړي چې کرهنیز تمویل د نورو محصولاتو په اډانه کې راتلای شي، د بیلګې په ډول مرابحه هغه محصول ده، چې اکثره بانکونه یې کاروي او له دې لارې ډېری

کرهنیز موارد لکه تخم، سرې، دوا پاشي او داسې نور موارد تمویلېدای شي. ورته توګه باندې د اسلامک میکروفایننس ( Microfinance Islamic ) / وړو اسلامي تمویلاتي شرکتونو لکه آکسس افغانستان ځیني محصولات کرهنیزه برخه کې د تمویل جوګه دي. علاوتاً ځیني داسې نور نړیوال او ملي مالي بنسټونه هم شتون لري، چې یواځې کرهنیز سکټور تمویل تر پوښښ لاندې راولي، اوسمهال یې د هېواد په کچه ښه بیلګه د زارعت پرمختیایي صندوق Agriculture Development Fund ده. دا بنسټ د مختلفو تمویلاتي عقودو لکه مرابحه، وکالة او داسې نورو پربنسټ کرهنیز ډګر تمویلوي.

دا ټولې هڅې تر ډېره انفرادي انداز باندې تر سره کیږي، کم موارد به داسې وي، چې کرهنیز شرکتونه/ بنسټونه له دې لارې تمویل شي یا که له بلې زاویې موضوع تحلیل کړو، د دې بانکي او مالي بنسټونو پانګې ته په کتو دا ډېر واړه د پانګونې فرصتونه دي بلکې ضرورت ده، چې کرهنیز ډګر کې لوی لوی د پانګونې فرصتو برابر شي او دا د صکوک له لارې ښه میسر کېدای شي. له دې وراخوا د سیاسي تحول په پایله رامنځته شوې بې اعتمادۍ مالي او بانکې سکټور باندې د اعتماد کچه هم زیانمنه کړه. اوسمهاله پانګه وال تر ډېره خپله پانګه ځانو سره کورو کې یا هم صرافیو کې ساتي او دا موضوع د اقتصادي چرخ په حرکت کې د سستي باعث کرځي؛ اسلامي امارت د یوه مسؤول نظام په توګه اړ ده چې داسې بدیل میکانیزمونه وکاروي، څو دا ټولې ناخوالې قابو کړلی شي او د دې میکانیزمونو له ډلې یو هم کرهنیز صکوک دي، چې د وضاحت لپاره یې مزارعة صکوک په پوره تفصیل اما مساقاة او مغارسة صکوک په نسبي تفصیل سره ځکه ذکر کوو، چې ډیری برخې د دې صکوک خپلو منځو کې ورته والی سره لري او مقاله کې د بشپړ تفصیل موکه هم نشته.

**مزارعة صکوک**

مزارعة یو فقهي عقد دی، ځانکړی تعریف او اړوند احکام لري، چې د دې احکامو په رعایت سره عقد صحت مومي، دا چې دا صکوک هم د دې عقد لاندې راځي لازمه ده چې اړوند عمومي احکام نظر کې وساتل شي. فقهاء مزراعة د ځمکې د ښبتن او بزګر تر منځ په ځیني د کرهنیزو محصولاتو سره تعریف کوی، څنګه چې مجمع الانهر کې ذکر کیږي :

( الْمُزَارعَة هِيَ عقد على الزَّرْع بِبَعْض الْخَارِج ).۸

---

[۸] الحَلَبي، إبراهيم بن محمد بن إبراهيم الحَلَبي الحنفي، مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر، الناشر: دار الكتب العلمية - لبنان/ بيروت، الطبعة: الأولى، ١٤١٩هـ- ١٩٩٨م، ١٤۴/١. انظر: البدائع: ٦/ ١٧٥، تبيين الحقائق: ٥/ ٢٧٨، الدر المختار: ٥/ ١٩٣، تكملة الفتح: ٨/ ٣٢.

دا عقد د ځانګړو شرایطو په رعایت سره مشروع ، څرنګه چې شامي صیب فرمايي:

وَأَرْكَانُهَا أَرْبَعَةٌ: أَرْضٌ، وَبَذْرٌ، وَعَمَلٌ، وَبَقَرٌ (وَلَا تَصِحُّ عِنْدَ الْإِمَامِ) ؛ لِأَنَّهَا كَقَفِيزِ الطَّحَّانِ (وَعِنْدَهُمَا تَصِحُّ، وَبِهِ يُفْتَى) لِلْحَاجَةِ، وَقِيَاسًا عَلَى الْمُضَارَبَةِ (بِشُرُوطٍ) ثَمَانِيَةٍ...۹

د دې عقد اساس نبوي ارشاداتو کې لېدل کېږي، څنګه چې رسول الله فرمايي:

حدثنا أحمد بن حنبل ثنا يحيى عن عبيد الله عن نافع عن ابن عمر : أن رسول الله صلى الله عليه و سلم عامل أهل خيبر بشطر ما يخرج من ثمر أو زرع ۱۰.

دا عقد د فقه په معتبرو کتابونو کې په مختلف انداز سره بحث شوی، او د اسلافو په زمانه کې د هماغه وخت د اړتیا په انداز عملي شوی اما معاصرو اقتصاد پوهانو د وخت د غوښتنو په تناظر کې دې عقد ته وسعت ورکړی او بیلا بیل ساختارونو کې يې ترسیم کړي، چې يو هم مزارعة صکوک دي.

دا صکوک د زراعة عقد پر بنسټ را منځته شوې پروژې لپاره صادرېږي. د دې صکوک صادرونکی د حاصلاتي ځمکي څښتن یا د حاصلاتي ځمکي د منافعو څښتن- د اجاري صورت کې او کروندګر دواړه کېدای شي. هغه صورت کې چې د ځکمي/ منافعو څښتن بنسټګر شي، کروندګر پانګه وال او د صکوک له لارې را ټول شوي مبالغ د کروندې اړوند لګښتونو کې مصرفېږي. او هغه حالت کې چې کروندګر بنسټګر شي، د ځمکې څښتنان پانګه وال وګرځېږي او د صکوک له لارې را ټول شوي مبالغ د کروندې اړوند لګښتونو کې مصرفېږي او د صکوک حاملین د ځمکي حاصلاتو کې د عقد له شرایطو سره سم برخه لري.

المعائير الشرعية مزارعة صكوك داسې تشریح کوي:

(المصدر لتلك الصكوك هو صاحب الأرض (مالكها أو مالك منافعها)، والمكتتبون فيها هم المزارعون فى عقد المزارعة( أصحاب العمل بأنفسهم أو بغيرهم)، وحصيلة الاكتتاب هي تكاليف الزراعة)11.

---

۹ الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (٦/ ٢٧٥).

۱۰ السجستاني، ابي داود سليمان بن الاشعث، سنن أبي داود، ناشر:دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، المكتبة الشاملة.حديث نمبر ۳۴۰۸.

11 لمعيار الشرعي، رقم ۱۷، بند:۹/۵/۱/۵، الف.

(وقد يكون المصدر هو المزارع (صاحب العمل) والمكتتبون هم أصحاب الأرض (المستثمرون الذين اشتريت الأرض بحصيلة اكتتابهم)، ويملك حملة الصكوك الحصة المتفق عليها مما تنتجه الأرض[۱۲]).

حقيقت كې د دې صكوك د لارې را ټول شوي مبالغ اړوند كرهنيزه ځمكه كي د حاملينو لپاره محصولاتو كې برخه لري.

قوشتيپه او صكوك

دا ملي پروژه د سردار محمد داود خان د پلانونو يوه برخه وه چې د امكان سنجی سروي يې د سيوم كمپنی لخوا تر سره شوي. د تطبيق لپاره يې په تير جمهوريت كې تابيا ونيول شوه، هماغه و چې د وخت د ولسمشر د (۴۰۹۰) شمېرې او ۱۳۹۹/۱۰/۱۸ تاريخ حكم او د انكشاف ملی د عمومي رياست د عالی مقام د (۵۰۳۷) شمېرې او ۱۳۹۹/۱۱/۱۹ تاريخ د حكم په اساس چې اصل يې د انكشاف ملی د عملياتي او حمايوي رياست په حواله صادر و، د هملند ساختماني رياست چې د انكشاف ملي شركت اړوند ده، ته سپارل شوی و. د پروژې اوږدوالی ۲۸۵ كيلومتره، منځنی سور (عرض) ۱۰۰ متره، لاندنی سطحه ۸۵ متره، د اوبو ارتفاع (جگوالی) د ديزاين مطابق ٦.۵ متره، د كېندنې د كار حجم ۱۲۷۸۰۸۲٦۱ متر مكعب، د پركاري او متراكم كولو حجم ۱٦۵۱۲۵٦.٦۸ متر مكعب، د ميده ريگ حجم چې له ٦۰۰ نه تر ۲۰۰۰ متره يې دنقلولو توان لري ۷۷۸۳۸۸٦ متر مكعب ، دميده ريگ حجم چې له ۱۰۰ نه تر ۵۰۰ متره يې د نقلولو امكان شته ۱۵۲۸۷۳۲.۹۳ متر مكعب ده. ياد كانال د پلان له مخې ۵۸۰۰۰۰ هكتاره ځمكې د خړوبولو گنجايش لري دا په داسې حال كې ده چې دځمكې د لاندنی اوبو د سطحې لپاره يوه ثانيه كې ٦٦۸.۴ متر مكعب داوبو وركونې (خړوبولو) ظرفيت اټكل شوې ده. دغه پروژه د هېواد له مهمو پروژو څخه شمېرل كېږي او تطبيق يې خورا مهم دی ځكه په تطبيق سره يې كرهنيز توليدات وده كوي او د هېواد گڼ شمېر وگړو ته د كار زمينه برابرېږي. د قوشتيپي كانال د كېندنې لومړی فاز د بلخ ولايت له آمو سيند څخه چې كلدارو ولسوالی كې موقعيت لري سرچينه اخلي. د مزارشريف له حيرتان څخه وروسته د دولت آباد دښتو له نيمه كرهنيزو ځمكو څخه تيرېږي او وروسته د آقچي ولسوالی او د فارياب ولايت اندخوی ولسوالی ته رسېږي.

دا پروژه په دريو فازونو يا برخو كې ډيزاين شوې، لومړی فاز يې ۱۰۸ كيلومتر اوږد والی لري، چې له آمو پيل او د بلخ ولايت په دولت اباد ولسوالی كې پای مومي. دويم فاز يې ۱۷۷ كيلو متر اوږد والی لري، چې د بلخ ولايت دولت اباد ولسوالی څخه پيلېږي او باالاخره د جوز جان ولايت په آقچه

---

[۱۲] لمعيار الشرعي، رقم ۱۷، بند:۹/۵/۱/۵، ب.

ولسوالۍ کې پاېږي او دریم فاز یې د فرعي کانالونو توزیع باندې مشتمله ده. د لومړي فاز لپاره دوه کاله موده ټاکل شوي وه او د پاتو دوو نورو فازونو ( برخو ) لپاره پینځه کلونه په نظر کې نیول شوي دي. د دې پروژې بودجه ټولټال (۱۶،۶۹۳،۰۳۲،۹۵۲ افغانۍ) اټکل شوې اما یاده بودجه کې د کانال سروې ، ډیزاین او د سربندونو جوړونه، فرعي کانالونه او نور کانکریټي ساختمانونه کوم چې دکانال مسیر کې جوړېژی شامل نه دي. په پیل کې د کار د شروع کېدو لپاره ۵۰۰ میلیونه افغانۍ د شمال د ډبرو د سکرو د تصدي له عوایدو ځانګړې شوې وې، چې عملي کارونه یې ۱۴۰۲/۰۲/۱۶ په ساحه کې شروع او تقریبا ۱۲۰۰ نفرو ته یې مستقیما د کار زمینه برابره کړې وه.

د سیاسي تحولونو په راتګ سره د دې پروژی کار په ټپه ودرېده خو له ښه مرغه د لږ ځنډ وروسته د ملی پراختیا د عالی مقام او د بلخ ولایت د مقاماتو او متنفذینو په هڅو ددې عام المنفعه پروژې کارونه د ۱۴۰۱ حمل د ۱۰ م تاریخ یو ځل بیا پیل شو چې اوسمهال د ۵۲۶۳ کسانو ( ماهر کاریګران ، غیر ماهر کارکوونکي ، تخنیکي کسان او عملیاتي کسان) ته په مستقیمه توګه د کار زمینه برابره کړي ده. تر دې مهاله یې ۲،۹۹۲،۲۸۲ مکعب متر کندنه شوې، د تخمیني بودجه په پرتله یې ۲.۱۵ سلنه کار په مخ تللی او تر دم ګړی د پروژې اړوند تقریباً ۳۵۹،۰۷۳،۸۴۰ افغانۍ مصرف شوی.د دې پروژې د بشپړېدو سره به ان شاالله هېواد د غنمو، میوو، سبزي او نورو کرهنیزو محصولونو له پلوه په ځان بسیا شي او په ټوله کې به د هېواد په اقتصاد کې رغنده او مثبت رول ولوبوي. د دې حیاتي پروژې بنسټیزه موخه کرنه یادې شوې خو صنعت، چاپېریال ساتنه، د ځمکو لاندې اوبو تغذیه او داسې نور یې هم موخې یاد شوي. په دې پروژې به د اسلامي امارت له کرهنیزي پالیسي سره سم کرهنیز پروګرامونه تطبیق کېږي. د کانال په اوږدو کې د ریګونو د مخنیوي لپاره پلان دی، چې د کرهنې وزارت د کارپوهانو په مشوره ساحې شنې کړي او هغه ونې او نیالګې به ابښودل کېږي چې د چاپېریال د هوا سره سازګار وي او د کانال ته دریګونو د داخلېدو مخنیوی وکړي[13].

څنګه چې د قوشتېپې کانال بنسټیزه موخه کرهنیز په ګوته شوې، اما اوسنیو شرایطو کې اصلی او فرعي موخې یواځې په ملي بودجه ناشونې ښکاري اړتیا ده په داسې لارو چارو غور وشي، چې د موخو د تر سره کولو برسیره هېواد او پانګه وال دې ملي پروژې کي برخه‌وال شي، هغه صکوک دي. د دې پروژې ماهیت ته په کتو زارعتي صکوک غوره جوړښت جوړېدای شي. کرهنیز صکوک پاسنۍ برخه یواځې په فقهي لحاظ معرفي شو اما اړتیا ده، چې عملي او تخنیکي پلوه سره بحث شي.

---

[13] دکتور فیاض، شخصي انټروي، د ملي پراختیا شرکت تجارتي ریس.

د مزارعة صكوك بنسټيز عناصر

دې صكوك کې د مالي بازار ( بورسة مالية ) او داسې نورو قانوني بنسټونو چې د صكوك صدور اجازه ولري او د چارو په بهير کې له پروژې نظارت وکړي برسيره ځينې نور عناصر هم شته چې د مزارعه صكوك د معاملې برخې دي، چې په لاندې توګه ذکر کېږي:

بنسټګر / سپارښتونکی:

هر هغه حقوقي شخصيت لکه د کرهنې وزارت، د کرني پرمختيايي صندوق، کرهنيز بانک او داسې نور بنسټونه چې په کرهنيز ډګر کې د لويو پروژو د تمويل لپاره يوه مالي بنسټ ته د مزارعة صكوك د صادرېدو سپارښتنه کوي.

د مزارعة صكوك نشرونکی ( وکيل):

د دې صكوك نشرونکی، مستقل يا هم بنسټګر پورې تړلې داسې مالي موسسه ده چې د ځانګړې موخې لپاره رامنځته شوی وي. نشرونکی د قانوني اجازې او د بنسټګر له سپارښتنې وروسته د صكوك په نشر او صادرېدو لاس پورې کوي. دا صكوك د پروګرام سره سم د يوه بانک له لارې پانګه والو ته سپاري. د ناشر او پانګه والو ترمنځ د وکالت اړيکه په داسې ډول شتون لري، چې د صكوك په مقابل کې له پانګه والو پيسې ټولې او په همدې پيسو کرهنيزې ځمکې وپلوري او کښت ته يې تيارې کړي چې وروسته بيا همدا ځمکې بزګرانو د مزارعة عقد پر بنسټ سپاري. بلکې دا بنسټ د مزارعة اړوندو داسې نورو چارو کې هم د وکيل حيثيت لري.

د صكوك مالکين ( حاملين):

د مزارعة صكوك در لودونکي حقيقت کې د هغو ځمکو يا يې د منافعو څښتنان ګڼل کېږي، چې د ځانګړي مالي بنسټ لخوا پرې صكوك صادر شوي او عملاً بزګرانو ته د کښت لپاره ورکړل شوي دي. مالکين کولای شي همدا صكوك ځان سره وساتي او دوره يې توګه باندې يې له ګټې استفاده وکړي او نقدو ته يې د اړتيا په صورت کې د ملکيت د سند په توګه نورو باندې هم خرڅ کړي. دې صورت کې د صكوك پېرونکي د مزارعة شتمنيو نوي مالکان ګڼل کېږي.

بزګران ( زارعين):

هغه کسان دي، چې کرهنيزه ځمکه باندې د تر لاسه کېدونکي محصولونو د يوې ټاکل شوې سلنې په مقابل کې کښت کوي.

د شتمنۍ خرڅونکی:

هر هغه حکمي شخص چې د کرهنیزو ځمکو په خرڅلاو لاس پورې کوي، کله نا کله بنسټګر او خرڅونکی دواړه یو وي.

شتمني:

هر هغه ځمکه چې د مزراعة د قرارداد موضوع جوړوي او د مزارعة ځمکه ورته ویل کېږي۱۴.

د مزارعة صکوك عملي تګلاره

د دې صکوك صاردونکي (بنسټګر/ Originator) د هغه ځمکې څښتن وي کوم چې غواړي کرهنیزه ځمکه یې د همدې عقد پر بنسټ تمویل شي، حاصونو به د بنسټګر او پانګه والو تر منځ څرنګه چې اتفاق د جهتینو شوی وي، تقسیمېږي. ګډونوال/ پانګه وال به د بزګرانو په توګه کرهنیزه ځمکه باندې مصرف کوی، طبعاً دې پروسه کې لوی لوی کرهنیز بنسټونه ګډونوال وي. د ځمکې مساحت، صفت، د کروندې نوعیت، لګښتونه لکه ترکتور، تخم، کیمیاوي سره (کود)، د انجینرانو او مزدورانو معاشات او داسې نور، متوقع حاصونو، د صکوك مدة، تقسیم د حاصلونوو او نور اړین موارد به د صکوك په پالیسي (Prospectus) کې ذکر کېږی. دا صکوك د مالي وجوهو را ټولو (اکتتاب) د مودې له پای کېدو او کرهنیزه برخه کې له پانګه ونې وروسته ټولو اړوندو شتمنیو او حاصلاتو کې له شنه کېدو تر پخېدو، تقسیم او خرڅلاو پورې د ځمکې د مالك او د صکوك د څښتنانو تر منځ د پانګې په تناسب ښکارندویي کوي۱۵.

د دې صکوك عملي طریقه داسې ده، چې معمولاً کرهنیز بنسټ لکه، کرنې ورازت، کرهنیز بانك، کرهنیز بنسټ (دلته د موضوع د ښه روښانه کېدو او عملي جنبې درلودلو په موخه د کرهنې پرمختیایي صندوق/ Agriculture Development Fund د بنسټګر په توګه مطرح کوو) د قوشتیپې کانال خوا او شا ځمکې پر بنسټ صکوك صادر کړي، لازمه ده چې پیل کې یوه هر اړخیزه د امکان سنجی سروي وکړي. د امکان سنجی دا سروي به ډېره تخنیکي تر سره کوي او دې مرحله کې، د ځمکې

---

۱۴ موسویان، سید عباس، صکوك مزارعه و مساقات؛ ابزار مالی مناسب برای توسعه بخش کشاورزان ایران. قصلنامه علمی پژوهشی اقتصاد اسلامی/ سال هفتم، شماره ۲٦، تاستان ۱۳۸٦. ص ۸-۹.

۱۵ دوابه، دکتور اشرف، الصکوك الاسلامية بين النظرية و التطبيق، ناشر: دارالسلام للطباعة و النشر و التوزيع و الترجمة، قاهرة- مصر، ۱۴۳۰هجري ـ ۲۰۰۹ میلادي. ص ۴۲ ـ ۴۳.

ځومره والی او څرنګوالی، د کښت او زرع لپاره د حاصلاتو انتخاب، په ځمګه باندې لګښت، د صکوک مدة او داسې نور موارد را نغښتل کېدای شي.

د صکوک د تخنیکي جوړښت له غوښتنې سره سم به دا هر څه په تفصیلواره توګه د یوې منظمې پروژې په بڼه د صکوک د پالیسۍ/ Prospectus له لارې اعلانوي. وروستی پړاو کې به ځانګړی مالي بنسټ/ Special purpose vehicle رامنځته کېږي او د پروژې د لګښتونو په تناظر کې به صکوک اعلانوي. صکوک کې د ګډون په موخه به یوه زماني محدوده تعینېږي او هر څوک/ شرکت به د خپل توان په اندازه صکوک تر لاسه کوي.

دې مرحله کې یوه بانک ته اړتیا لېدله کېږي څو پرمټ یې د صکوک مالي چارې لکه د صکوک مبالغ ترلاسه کول، بزګرانو ته د مالي وجوه ورکړه، د کرهنیزو محصولاتو د خرڅلاو قیمت جمع کول او داسې نورو مواردو مصارف مدیریت کړي. دغه کړنه د یوه کرهنیز بانک د جوړېدو ښه چانس ده څو یې پر مټ کرهنیز ډګر هر اړخېزه توګه باندې له مالي پلوه تقویه او په ځان بسیا شي. اوسنیو شرایطو ته په کتو د کرهنیز بانک جوړولو وړتیا له ADF سره شته بلکې امارت کولای شي پښتني، ملي یا هم نوی کابل بانک چې دولتي بانکونه دي کرهنیز وګرځوي.

کله چې د صکوک د پلور موده پای ته ورسېږي، له همدې لارې تر لاسه شوي مبالغ به SPV وکالتاً د حاملینو لخوا د قوشتیپې کانال د ځمکو په پېر/ اجاره کې مصرفوي او د زرع یا کښت لپاره به یې بزګرو ته ورکوي. غوره دا ده، چې سیمه کې کرهنیز کوپراتیفونه جوړې شي څو چارو کې همغږي او اسانتیا رامنځ ته شي. بزګران به د ADF له پالیسۍ یا د صکوک له پروګرام سره سم کرکیله پیل او حاصلات به تر لاسه کړي. همدا حاصلات به په دوره یې توګه باندې ځانګړي مالي بنسټ ته سپارل کېږي، څو دا حاصلات د یوه منظم پروګرام له مخې بازار کې خرڅ کړي. له همدې لارې تر لاسه شوې ګټه په حاملینو د صکوک د پانګې/ صکوک په تناسب وېشل کېږي. دا پروسه به تر هغې تکرارېږي، چې د صکوک د کلي تصفیه زمانه را ورسېږي.

**د مزارعة صکوک تخنیکي جوړښت**

که کله هم ADF د قوشتیپې کانال خوا او شا ځمکې باندې مزارعة صکوک جاري کوي، له تخنیکي پلوه ځینې مهم او اړین پړاونه په لاندې توګه انځورېدای شي:

د بنسټګر لخوا د امکان سنجۍ سروې تر سره کول:د کرهنې پرمختیایي صندوق/ Agriculture Development Fund ته لازمه ده په پیل کې د بنسټګر په توګه د قوشتیپې کانال خوا او شا کې یوه هر اړخیزه د امکان سنجۍ سروې وکړي او د پایلو مهمه برخه یې د پالیسي له مخې اعلان ته وسپاري.

د مالي منځګړیتوب (SPV ) بنسټ رامنځته کول: د کرنې پرمختیایي صندوق ( Originator) د قانون له حکمونو سره سم منځګړې\واسطه اداره چې د صادرونکي، امانتدار او منځګړیتوب چارې هم په غاړه لري، جوړوي او د دوي تر منځ به د نشرة الاصدار له تفصیل سره سم ابتدایي تعهد کیږي.

د صکوك صادرول: یاد شرکت\ SPV به صکوك صادروي.


د صکوکو پلور: پانګه اچوونکي صکوك اخلي او منځګړي شرکت ته د دوی د پیرودلو لپاره نغدې پیسې ورکوي.

د قوشتیپې خوا او شا ځمکو اخیستل/ اجاره :منځګړی\ واسط شرکت به د صکوك له پالیسې سره سم د بنسټګر څخه ځمکه اخلي او یا به یې اجاره کوي.

د مزارعة عقد تړل: منځګړی مالي بنسټ چې د پانګه والو استازی یادیږي له بزګرو/ کرهنیزو شرکتونو یا کوپراتیفونو سره د صکوك د پالیسې له مخې د مزارعة عقد تر سره کوي.

د کرهنیزو محصولات پېر: د محصولاتو د اخیستلو وخت کې د کرهنیز قرارداد سره سم به کرهنیز محصولات د ځانګړي مالي ادارې لخوا پلورل کیږي او عواید به یې د بزرګرانو او ادارې ترمنځ د شوې توافق پر بنسټ تقسمیږي.

د وکالة اجرة او پانګه والو ته د خپلو حقوقو ورکړه: منځګړی مالي بنسټ به لومړی خپل د وکالت فیس یا هم نور لګښتونه له همدې برخې منفي کوي او متباقي عواید به پانګه والو باندې د دوي د صکوك په تناسب وېشي. دا لړۍ به تر هغې دوام لري چې د صکوك د مودې د پای نېټې را ورسیږي او صکوك به عملا پای کیږي.




### مساقاة صکوک

مساقاة هم له فقهي پلوه ځانګړی تعريف او اړوند احکام لري، چې د دې احکامو په رعايت سره عقد صحت مومي، دا چې دا صکوک هم د دې عقد لاندې راځي لازمه ده چې اړوند عمومي احکام يې نظر کې وساتل شي. فقهاء مساقاة په ورکړه د ځينې د کرهنيزو محصولاتو، هغه چا ته، چې د کرهنې پالنه کوي تعريفوي، څنګه چې عيني صيب فرمايي: (فهي معاقدة دفع الأشجار والكروم إلى من يقوم بإصلاحها على أن يكون له سهم معلوم من ثمرها)١٦.

دا عقد د مزارعة عقد سره په ډېرو مواردو کې ورته والی لري اما ځينې تمايزات هم لري، څنګه چې شامي صيب ذکر کوي:

---

[16] العينى، بدرد الدين، بناية شرح الهداية، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الأولى، م، بيروت، لبنان، ١٤٢٠ هـ - ٢٠٠٠، ١١/٥٠٩.

... (وَهِيَ) الْمُعَامَلَةُ بِلُغَةِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ؛ فَهِيَ لُغَةً وَشَرْعًا مُعَاقَدَةٌ (دَفْعُ الشَّجَرِ) وَالْكُرُومُ، وَهَلْ الْمُرَادُ بِالشَّجَرِ مَا يَعُمُّ غَيرَ الْمُثْمِرِ كَالْحُورِ وَالصَّفْصَافِ؟ لَمْ أَرَهُ (إلىَ مَنْ يُصْلِحُهُ بِجُزْءٍ) مَعْلُومٍ مِنْ ثَمَرِهِ وَهِيَ كَالْمُزَارَعَةِ حُكْمًا وَخِلاَفًا (وَ) كَذَا (شُرُوطًا) تُمْكِنُ هُنَا لِيَخْرُجَ بَيَانُ الْبَذْرِ وَنَحْوِهِ (إلاَّ فِي أَرْبَعَةِ أَشْيَاءَ)[۱۷].

دا صکوک او پورتني د مزارعت صکوک یو بل سره یواځې همدومره توپیر لري، چې مزارعت کې معمولاً د اړوند کس (کروندګر) سره د کرهنیزو محصولاتو له پیل تر پای پورې د ټولو چارو د تر سره کولو خبره شوې وي په داسې حال کې چې مساقاة کې د کرهنیزو محصول له شین کېدلو وروسته د مزرعو د اوبه ورکولو خبره شوي وي. دا صکوک هم د کرهنیزو پروژو د تمویل لپاره صادرېږي، داسې چې له دې لارو څخه را ټول شوې مبالغ د مزراعة پر بنسټ را منځته شوې پروژې لپاره مصرفیږي او د صکوک حاملین کرهنیزو محصولاتو کې د عقد له شرایطو سره سم برخه لري.

دا صکوک هم د مساقاة عقد پر بنسټ را منځته شوې پروژې لپاره صادر شوي وي. د دې صکوک صادرونکی د حاصلاتي ځمکي څښتن یا د حاصلاتي ځمکي د منافعو څښتن- د اجاري صورت کې - او کروندګر دواړه کېدای شي. هغه صورت کې چې د ځکمي/ منافعو څښتن بنسټګر شي، کروندګر پانګه وال او د صکوک له لارې را ټول شوي مبالغ د کښت اړوند لګښتونو کې مصرفېږي. او هغه حالت کې چې کروندګر بنسټګر شي، د ځمکې څښتنان پانګه وال وګرځېږي او د صکوک له لارې را ټول شوي مبالغ د کښت د کرلو اړوند لګښتونو کې مصرفېږي او د صکوک حاملين د ځمکي څخه پرته میوو/ حاصلاتو کې د

عقد له شرایطو سره سم برخه لري.

المعائیر الشرعية مساقاة صکوک داسې تشریح کوي:

الف:(المصدر لتلك الصكوك هو صاحب الأرض (مالكها أو مالك منافعها) التي فيها الشجر، والمكتتبون فيها هم المساقون فی عقد المساقاة، وحصيلة الاكتتاب هي تكاليف العناية بالشجر)18.

[۱۷] الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (٦/ ٢٩٠).

[18] لمعيار الشرعي، رقم ١٧، بند:١٠/٥/١/٥، الف.

ب: (وقد يكون المصدر هو المساق (صاحب العمل) والمكتتبون هم أصحاب الأرض (المستثمرون الذين سقيت الأرض بحصيلة اكتتابهم) ويستحق حملة الصكوك الحصة المتفق عليها مما تنتجه الأشجار)[۱۹].

د دې صکوک اړتیا کانال لپاره هغه مهال لېدل کېږي یا هغه مرحله کې د تطبیق وړ گرځېږي، چې د کښت لپاره د اوبه رسولو سیستمونو، یا د اېښودلو شوو ونو او بوټو د پاللو په موخه جلا توگه باندې مالي وجوه د تر لاسه کولو ضرورت ولېدل شي. ممکن د کانال په خوا او شا کې ځینې داسې سیمې وي چې ونو پرته به نور کښتونه ډېره نتیجه نه ورکوي یا به د هېواد کرهنیزه ستراتیژي د دې ایجاب کوي، چې ونې او بوټې باید ورباندې کېښودل شي؛ نو د اړتیا په دې صکوک ښه پوره کېدای شي.

مغارسة صکوک:

مغارسة هم له فقهي پلوه ځانگړی تعریف او اړوند احکام لري، چې د دې احکامو په رعایت سره عقد صحت مومي، دا چې دا صکوک هم د دې عقد لاندې راځي لازمه ده چې اړوند عمومي احکام نظر کې ساتل کېږي. فقهاء مغارسة په ورکړه د معلوم عوض سره، هغه چا ته، چې د ونې/ بوټې یې اېښې وي تعریفوي، څنگه چې عیني صیب فرمایي: (المغارسة عقد على غرس شجر في أرض بعوض معلوم)[۲۰]

دا صکوک او پورتني د مزارعت یا مساقاة صکوک یو بل سره توپیر لري، داسې چې مزارعت کې معمولاً د اړوند کس (کروندگر) سره د کرهنیزو محصولاتو له پیل تر پای پورې د ټولو چارو د تر سره کولو مسوولیت ورکړل شوی وي په داسې حال کې چې مساقاة کې د کرهنیز محصول له شین کېدلو وروسته د مزرعو د اوبه ورکولو یا خړوبولو چارې ور له غاړې شوې وي خو مغارسة صکوکو کې د ځمکې د ښېښتن لخوا باغبان سره د ونو (میوه دار یا د بل اقتصادي ارزښت لرونکي ) ایښودلو او پالنې خبر شوي وي . دا صکوک هم د کرهنیزو پروژو د تمویل لپاره صادرېږي، داسې چې یو کس په یوه

---

[۱۹] المعيار الشرعي، رقم ۱۷، بند:۱۰/۵/۱/۵، ب.

[۲۰] ابن عابدين، ۱۸۳/۵.

کرهنیزه ځمکه بڼ جوړ کړي او له دې لارې را ټول شوې مبالغ\کرهنیز محصولات د توافق شوې سلنې له مخې د ځمکې د څښتن او باغبان ترمنځ شریک ګڼل کیږي.

دا صکوک د مغارسة عقد پر بنسټ را منځته شوې پروژې لپاره صادر شوي وي. د دې صکوک صادرونکی د حاصلاتي ځمکې څښتن او مغارس دواړه کېدای شي. هغه صورت کې چې د ځکمې څښتن بنسټګر شي، مغارسین ( باغبانان ) پانګه وال او د صکوک له لارې را ټول شوي مبالغ د ونو د کرولو اړوند لګښتونو ( لکه دوا پاشي، اوبه لګول، شاخ بوري او داسې نور) کې مصرفیږي. او هغه حالت کې چې مغارسین بنسټګر شي، د ځمکې څښتنان پانګه وال وګرځیږي او د صکوک له لارې را ټول شوي مبالغ د ونو د کرولو اړوند لګښتونو کې مصرفیږي او د صکوک حاملین کرهنیز محصولاتو کې د عقد له شرایطو سره سم برخه لري.

المعائیر الشرعية مغارسة صکوک داسې تشریح کوي:

أ: (المصدر لتلك الصكوك هو مالك أرض صالحة لغرس الأشجار، والمكتتبون فيها هم المغارسون فی عقد المغارسة، وحصيلة الاكتتاب هي تكاليف غرس الشجر ۲۱).

ب: (وقد يكون المصدر هو المغارس (صاحب العمل) والمكتتبون هم أصحاب الأرض (المستثمرون الذين غرست الأرض بحصيلة اكتتابهم)، يستحق حملة الصكوك الحصة المتفق عليها من الأرض والشجر) ۲۲.

**سلم صکوک**

د قوشتېپې کانال په کرهنیز صکوک کې دسلم هغه مهال د تطبیق جوګه ګرځي، چې د پورتنیو کرهنیز صکوک پر بنسټ ځمکه کښت شوې وي یا هم ونې کېښودل شوې وي خو د بزګرانو سره د محصولاتو د نه خرڅلاو/بازار تشویش شتون ولري. یا هم دا چې ممکن دا صکوک هېواد کې لومړی تجربه وي؛ نو ځکه به پانګه وال ورته زړه ښه نه کړي او د اړتیا وړ پانګه به ورته برابره نشي؛ نو کېدای شي د سلم له صکوک داسې ګټه واخېستل شي چې د لومړني پلان سره سم د قوشتېپې کانال دخوا او شا ځمکو

[21] المعيار الشرعي، رقم ۱۷، بند:۱۱/۵/۱/۵، الف.

[22] المعيار الشرعي، رقم ۱۷، بند:۱۱/۵/۱/۵، ب.

پلان شوي محصولات بنسټیزه شتمني وګرځوي، د پالیسي/prospectus له لارې یې ټول اړین تفصیلات لکه د محصول نوع، د صکوک موده، د خرڅلاو قیمت، منځګړی مالي بنسټ او داسې نور هم موارد ذکر شي.

**پایله**

د قوشتیپې کانال، د هېواد یو له هغو بنسټیزو پروژو څخه ده چې د کرهنیز ډګر میکانیزه کولو، صنعت، چارپېریال ساتنې او اوبو مهارول یې موخې یاد شوي خو د دې موخو تر لاسه کول ډېرې پانګې او لوړ ظرفیت ته اړتیا لري، چې د ملي بودجه تر څنګ باید په داسې لارو غور وشي، چې عامه وګړي په ځانګړي توګه مالي بنسټونه او پانګه وال پکې برخه‌وال وګرځول شي. د دې پروژې په مختلفو پړاوونو کې اسلامي اقتصاد بیلا بیل تمویلي میکانیزمونه لکه BOT مضاربتي اوراق او داسې نور د تطبیق جوګه دي اما کرهنیزه برخه کې کرهنیز صکوک ښه فرصت ده. د کرهنیز صکوکو په عملي کېدو سره به مو زرعتي سکټور کې په سلګونه زره هکتاره ځمکه تر کښت او کرنې لاندې راشي، میکانیزه کرهنه او پرمختلې مالداري به رامنځته شي، د کرنې برخه کې به افغانستان پر ځان بسیا شي. په ملي کچه به د هېواد ملي عواید لوړ، د مالي او بودجوي خودکفایي مشعلونه به رڼه او زرګونو وطنوالو لپاره به کارموندنه کې مرسته وشي. بلکې اقتصادي ډګر کې به مو د ملي پروژو د تطبیق لپاره له ملي بودجه پرته د تمویل داسې یوه نوې تجربه ازمایښت کړې وي چې د ولس په پانګو به د بنسټیزو پروژې تطبیق ته لاره موندل شوی وي. د مالي اسلامي چارو ( اسلامیک فایننس ) معاصرې د دې مالي وسیلو په تطبیق به د پانګې بازار (کپیټل مارکیټ ) تأسیس ته بستر جوړ کړي. په نړیواله کچه به د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره سوداګري نوره هم پراخه شي، د ګاونډیو او سیمې پر هېوادونو به انحصار او تکیه راکمه شي، د چاپېریال ساتنې حق به مو ادا کړی وي، سیمه به زرغونه شي، د هېواد ملي عواید به لوړ شي، او بالاخره هېواد به د ابادۍ او سوکالۍ په بېرته نه راستنېدونکې لار مزل پیل کړي او دا به په حقیقت کې د ښېرازۍ، نېکمرغۍ او ځان بسیاینې مزل وي.

**سپارښتنې**

د هېواد هغو ټولو لویو پروژو لپاره دې د صکوک څخه کار واخیستل شي، چې تطبیق یې اقتصادي لومړیتوب وي اما په اوسنیو شرایطو کې له ملي بودجې څخه ستونزمن ښکاري.

د صکوک لپاره دې تقنیني سندونه/ حقوقي چارچوب په داسې انداز سره ترتیب او تنظیم شي، چې تطبیقي جنبه ولري.

لويي پروژې په ځانګړي توګه د هېواد د قوشتېپې کانال کرهنيز صکوک دي د دې ډول تمويل لومړی تجربه انتخاب شي.

د پانګې/مالي بازار ( Capital Market ) اقتصادي ډګر کې ځانګړی ارزښت لري خو له بده مرغه زمونږ هېواد ترې محرومه ده په داسې حال کې چې د مالي اوراقو لپاره ثانوي بازار جوړوي؛ بناء اسلامي امارت دې د پانګې بازار د جوړولو لپاره لاس په کار شي.

صکوک چې اسلامی اقتصاد کې نوې موضوع او د هېواد له روان اقتصادي حالت سره مطابقت لري، اړتيا ده چې د ترويج لپاره يې د مقالو، کتابونو، ورکشاپونو او کنفرانسونو له لارې کار وشي، چې دا چاره تر ډېره د لوړو زده کړو وزارت او د افغانستان د علومو اکاډمي مسؤوليت جوړېږي.

دا پروژه ستره او د ګڼو اساسي موخو په درلودولو سره د ډېرې پانګې غوښتونکې ده؛ څېړونکي کولای شي مختلفو پړاوونو کې د اسلامي اقتصاد بيلا بيل تمويلي ميکانيزمونه لکه BOT مضاربتي اوراق او داسې نور تطبيق توګه باندې د خپلو څېړنو بحثونه وګرځوي.

## منابع


ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي، رد المحتار على الدر المختار، الناشر: دار الفكر-بيروت، الطبعة: الثانية، ۱۴۱۲هـ - ۱۹۹۲م.

پوهاند تنيوال محمد ظريف او پوهاند امين حميد الله، جغرافياى اقتصادي افغانستان، ختيځ بيا روغونه اداره (کور)، ۱۳۸۲.

جواد او ملگري يې، تأثير صكوك بين الملل بر رشد اقتصادى كشورهاى GCC درهايى براى اقتصادى ايران. قصلنامه علمى پژوهنشى اقتصاد اسلامى/ سال بيست و دوم، شماره ۸۷، پايز ۱۴۰۱.

الحَلَبي، إبراهيم بن محمد بن إبراهيم الحَلَبي الحنفي، مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر، الناشر: دار الكتب العلمية - لبنان/ بيروت، الطبعة: الأولى، ۱۴۱۹هـ - ۱۹۹۸م.

دوابه، دكتور اشرف، الصكوك الاسلامية بين النظرية و التطبيق، ناشر: دارالسلام للطباعة و النشر و التوزيع و الترجمة، قاهرة- مصر، ۱۴۳۰هجري ـ ۲۰۰۹ ميلادي.

السجستاني، ابي داود سليمان بن الاشعث، سنن أبي داود، ناشر:دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، المكتبة الشاملة.

صابر بوعينة او قيسي قروش، واقع و آفاق تطور صناعة الصكو الاسلامية فى العالم دراسة تحليلية للفترة ۲۰۰۱- ۲۰۱۹. مجلة : بحوث و تطبيقات فى المالية الاسلامية، المجلد ۵، العدد ۲، ۲۰۲۱.

العينى، بدرد الدين، بناية شرح الهداية، الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الأولى، م، بيروت، لبنان، ۱۴۲۰ هـ - ۲۰۰۰.

مزيني، امير حسين، مقايسه تطبيقي قابليت هاى صكوك در تأمين مالي تجارت خارجي، ، http://arh.sccsr.ac.ir ، ۲۰۲۲.

المعايير الشرعية، هيئة المحاسبة والمراجعات للمؤسسات المالية الإسلامية، ناشر: دارالميمان للنشر والتوزيع، بحرين، ١٤٣٧.

موسويان، سيد عباس، صكوك مزارعه و مساقات؛ ابزار مالى مناسب براى توسعه بخش كشاورزان ايران. قصلنامه علمى پژوهشى اقتصاد اسلامى/ سال هفتم، شماره ٢٦، تاستان ١٣٨٦.

نور عباد، پوهنوال دكتور حميد الله، اقتصاد و بانكداري اسلامي، انتشارات تمدن شرق ـ كابل. ١٣٩٨.

مصاحبه:

دكتور فياض، شخصي انټروي، د ملي پراختيا شركت تجارتي ريس.